AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۲/۲۲

# بې وسي

کلونه وشول رانه ورک دی هیڅ خبر یې نشته
په ژړا زړه تش کړم خو هغه شان اثر یې نشته

د سترګو تور یې تربنه تا یوړل په کومه لاري؟
مین دې داسې شوی یاره چې نظر یې نشته!

خود به د لر او بر له یو بله به په تیښه درومي
پښتون ولس چې سره جمع کړي رهبر یې نشته

منګی ټوټې ټوټې، ګودر کنډر، چنار بې کسه
هماغه کلی دی؛ خو یاره مازدیګر یې نشته

کوڅې له ماتو بنګړو ډکې دي، حنا نه ښکاري
دا څنګه خلک دي، چې عمر کې اختر یې نشته؟

د ځان وژنې غږ چې واورمه؛ نو ورو ووایم:
دا داسې خلک دي چې عمر کې سحر یې نشته

دا کروندګر نه دی، قاتل دی زما د واړه بچو
له بمو پرته کرونده کې کوم یو کر یې نشته

هدیرې ته مه ځه شهیدان حساب کتاب غواړي
زمونږه ټپیانو سره اوسه چې خطر یې نشته

په دغه ښار کې سرشمیرنه زه د چا وکړمه؟
سمسوره هر یو ته چې ګورمه؛ نو سر یې نشته

---

یادونه: د ۱۶ کلنو په عمر مې دا ۶م غزل و، غوښتل مې په بې وسی او غربت لیکل وکړم؛ خو بیا مې چې هاخوا دیخوا وکتل، نو فکر مې وکړ، چې د پښتنو تر خوار ژونده به زیات د بې وسی ستر سمبول څه شی وي؛ هماغه و چې پورته کرښې مې ولیکلې!

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ